مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۴/۰۴/۰۳

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۰ مه پرله پسي برخه

## کابل
## او د افغانستان سويل – ختيځ

ايديټ:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**مُهمَند:** يا: ماهمند: [1]: ۱۴ – ۳۴، ۵۴ – ۶۹: دا د جلال آباد يو سيند دی او له هغې درې څخه راپورته کېږي چې خپل نوم ئې ورڅخه اخيستی دی او د سپين غرۀ په داخلي لړيو کې موقعيت لري؛ دا سيند د نازيانو له درې او د پيش بولک د شينوارو له کلاګانو څخه تېرېږي او باسول ته نېږدې په دوه وو څانګو ويشل کېږي؛ لويه څانګه ئې په باسول کې د کابل سيند ته ورغورځي او کوچنۍ څانګه ئې د هزار ناو پر لور بهېږي او د هزارناو په کرنيزو ځمکو کې پای مومي. دا دره د خپلو انګورو د توليداتو له کبله شهرت لري. جنکينز د هغو کليو ليست په ۱۸۷۹ز کال کې ليکي چې دی ئې د مهمند درې د روډ د غاړې د کليو په نوم يادوي:

| | د کليو نومونه | استوګن وګړي | | د کليو نومونه | استوګن وګړي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سياه چوب | دهګانان | ۸ | هزارناو | مهمند |
| ۲ | زاخيل | مهمند | ۹ | امبارخانه Ambar Khana | مهمند |
| ۳ | قلعۀ عنايت الله خان | مهمند | ۱۰ | د سرکاڼي ګردی ( د ګرد آبي، مارسينګي لنډي Marsingai Landi او دِۀ زيارت په ګڼون) | مهمند |
| ۳ | ګولاهي Gulahi | مهمند | ۱۱ | ډَکه Dakka | مهمند |

[1] - MOHMAND OR MAHMAN


افغان جرمن آنلاين په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | پیش بولک | دهګانان | ۱۲ | لال پور د ساده او ملکانه په ګډون Sada and Malikana | مهمند |
| ۶ | قلعه جات شینواري | شینواریان | ۱۳ | کوچیان | کوچیان |
| ۷ | باسَوَل | مهمند | | | |

یاد داشت: د مهمند روډ د کلیو په ډلې کې لاندني کلي هم ورزیاتېږي:

| سه پای شینوار: یعنی چهل ګزي | | Sipai Shinwaris, viz., Chalgazi | | میدانک | | ګردي | Girdai |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بهرام خیل | | بټان | Battan | داوني | Daonai | اسد خیل | |
| تنګی | | مکراناس | Makranas | مارغه | Margha | لنډی | Landai |
| تریلي | Trelai | سُنذک | Sunduk | کوستال | Kostal | اچین | Achin |
| دسار کولبه | Dassar Kulba | | | | | | |
| د سنګو خیل شینوارو لاندني کلي هم وربانديِ زیاتېږي | | | | Sangukhel Shinwaris | | | |
| سروبي | Sarobai | لکار / لکړ شیخان | | Lakkar Shaikhan | | شولګر | Sholgar |
| کسوبه | Kasoba | چنار | Chenar | سیسوبي | | Sisobi | |

همدا شان د علي شیر خیل شینوارو یو کلی چې «دِهٔ سارک » [2] نومېږي په دې ډلې ورزیات کړئ. (مور کرافت، مک کریګر، جنکنېز)

**مهمند:** دا یوه سیمه ده چې د هزاره ګانو جغتو قبـیـلـه په کې استوګنه ده. په دې نوم یو بل ځای په ۲۵ ــ ۳۴، ۱۵ ــ ۷۱ «الف» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

* **مهمند**: ۱۶ ــ ۳۴، ۵۵ ــ ۶۹ «ن»: دا د ننګرهار په ولایت کې د «اشپان» [3] په سویل کې «پیشداري» [4] ته نـیـږدې یو کلی دی.

* **مهمند دره**: ۱۵ ــ ۳۴، ۵۲ ــ ۷۰ : مهمند دره د ننګرهار د ولایت یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۲۸۱ کیلومتر مربع ده او د وګړو شمـېـر ئـې له ۱۳۲۸۰ تنو څخه تر ۱۵۴۵۰ تـنو پورې چې بزګري پرګني دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له شمال لوري له «ګوشته خواجه زمر» [5] او «لال پوري» [6] سره، له ختیځ لوري له پاکستان، له سویل لوري له «در بابا» [7] او «لوی شینوار» [8] او له لویدیځ لوري له «بټي کوټ» [9] سره کربنه لري. مهمند دره ۱۱ کلي لري چې ۶ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

---

[2]-Dehsarak
[3]-Ashpan
[4]-Pishdari
[5]-Goshta Khwaja Zemar
[6]-Lalpur,
[7]-Dar Baba
[8]-Loye Shinwar
[9]-Bati Kot


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| باسول کلی | Basol Kalai | خرکاني | Khar Kanai | هزار ناو | Hazar Naw | کندو غازگی «کندو» | |
| Kando Ghazgai (Kando) | | غازي گی کلی | | Ghazgai Kalai | | گردی غوث | Gerdi Ghaus |
| لنډی کلی | Landikalai | میله باسول | Mila Basol | ډکه علیا | Daka Ulya | ډکه سفلی | Daka Sufla |
| چکنور | | Chaknur | | | | | |

**مور:** موړ: [10]: دا د «پنج آو / پنج آب» یوه څانګه ده. دا یو تنګ مارپیچ تګاب دی چې دومره ډیر اهمیت نـهٔ لري. (محمد اکبر خان)

**مورو**: [11] : دا له غزني ۲۵ مایله لیرې د کابل د سړک پر غاړې یو کلی دی. (تورنتون)

**مُشان**: [12]: ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د کابل د ختیځ په ۵ مایلی کې د دې ځای او د خورد کابل تر منځ یو کلی دی. (میسن)

**مشون:** [13]: دا د دایکنډي یوه څانګه ده.

**مُزنگ**: وګورئ: مَزَنګ

**موبت**: [14]: دا د آجرستان د پولاده هزاره ګانو یوه څانګه ده.

**مچي خیل** : [15]: دا په خروار کې د غلزیو د ۶۰ کورونو یو کلی دی. (ګریسباخ)

**مدکي**: [16]: دا د «سلیمي» [17] او «اندوه» [18] تر منځ له «علي خیلو» تر غزني پورې د تللي سړک په اوږدو کې یو کوچنی کلی دی. (کریګ)

**مغل خان**: ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد د شمال لویدیځ په ۱۰۶ مایلی کې د الینګار د سړک په اوږدو کې یو کلی دی چې د «ادوکي افغانانو؟» [19] ۳۰۰ کورونه لري. (لیچ)

**مغل خیل**: ۹ ــ ۳۴، ۳ ــ ۶۹ «ن»: دا د «تنګي واغجان» د شمال په ۲ مایلی کې د لوګر د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې د ۷۰ کورونو یو کلی دی. (کلیفرډ، ایوان سمیت)

**مغل خیل** : ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د لوګر په درې کې د تنګي واغجان په سویل کې یو کلی دی. استوګن وګړي: آستانه زي غلزي؛ په ۱۸۸۰ ز کال کې د کلي د وګړو شمــېر ۵۰ کورنۍ وې. (کلیفرډ، ایوان سمیت)

---

10-MOR
11-MORU
12-MOSHAN
13-MOSHUN
14-MOSHUN
15-MUCHI KHEL
16-MUDKI
17-Sulimi
18-Andoa
19-Adoke Afghans ( ?) .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

* **مغل خیل**: ـ۴۴ ـ ۳۴، ۴۰ ـ ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کې د تګاب د سویل په نېـږدې ۱۰ مایلۍ کې د تګاب د سیند د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

**مغل خیل افغاني**: [20] : دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه دارۍ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: غلزي. (جنکینز)

**مغل کوټ**: ۳ ـ ۳۴، ۲۰ ـ ۶۸ «ج»: دا د «خوات» [21] په دره کې یو کلی دی چې د غزني د شمال لویدیځ په نېـږدې ۴۴ مایلۍ کې واقع دی. دلته د یوهٔ غنډ د کمپ وهلو لپاره ځای سته چې کافي اوبـهٔ لري. (آی. بي. سي)

**محمد افضل خان**: ۳۸ ـ ۳۴، ۱۳ ـ ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کې د «پای مینار» [22] د کوتل د شمال په ۲/۱ ـ ۳ مایلۍ کې چاریکارو ته د تللي سړک په اوږدو کې یو کلی دی. (آی. بي. سي)

**محمد آغـه** : ۱۳ ـ ۳۴، ۶ ـ ۶۹ : محمد آغه د لوګر د ولایت یو کلی او یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۱۰۱۷ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې چې بزګري پرګني دي تقریباً ۲۰۹۰۰ تـنه اټکل سوی دی. دا ولسوالي په سویل لویدیځ کې له پل علم، په لویدیځ کې له نرخ، په شمال کې له چارآسیاب او خاکِ جبار، له ختیځ لوري له ازرو او له سویل لوري له خوشي سره کربنه لري. محمد آغه ۷۳ کلي لري چې ۱۲ کلي ئـې له ۵۰۰ ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| قریـهٔ ګومران | Qarya -i- Gomran | قلعـهٔ انور | نیازي |
| دوران خیل | غونډۍ | شیر افغان | میرګي خیل Mirgai Khel |
| نظرخیل | حسین خیل | غلام حیدر خان | قلعـهٔ خان جان |
| قریـهٔ شیرازه | Qarya- i- Sheraza | کند والا Kand wala | قریـهٔ کبخ Qarya- i- Kabkh |
| کمال خیل | نظر خیل | قریـهٔ دِهٔ نو | باغِ سلطان |
| دیوالک | شکارتي خیل | Shakarti Khel | سرخ آباد Surkhabad |
| قلعـهٔ شیخک | وزیرستان | قومِ هزاره | هزاره |
| بنادي خان | وغ جان Weghjan | زرغون بنارِ علي خیل | قلعـهٔ دلیل |
| قلعـهٔ شاهي | قلعـهٔ دولت | محمد آغه | میرزا خیل |
| قطب خیل | قلعـهٔ جرنیل | قندهاري | خواجه داخل Khwaja Dakhel |
| ګوته ګي Gotagi | ګلي خیل | خادو خیل Khadokhel | کشني Keshni |
| شاغاسي | غزني خیل | قلعـهٔ وزیر | سلام خیل |
| سیاه کوه | مغل خیل | شکار قلا | زید آباد |
| دشتک | قریـهٔ عینک | آب پران | احمد زي |
| سید میرِ قلعـهٔ احمد زی | سنګر خیل ګران | Sangar Khel Geran | تاج خان |
| بهادر خیل | سفید سنګ | آب بازک | تري ګوټ Tari Gut |
| سیاه بیني | قلعـهٔ ناظر | قریـهٔ قولي | لنګر |

20-MUGHAL KHEL -I- AFGHANI
21 -Khawat valley
22 -Paiminar Kotal

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| غل دره | Ghal Dara | کاریز | سرخ آب | درهٔ سرخ آب |
| قلعهٔ کهنه سرخاب | | رحیم آباد | قناتِ ملک | شیر افغان |
| بیني شیر افغان | | | | |
| (لودویگ آدمک) | | | | |

محمد آغه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

دا د لوګر د درې په شمالي برخې کې او د لوګر د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. محمد آغه د تنګي واغ جان د شمال په ۸ مایلۍ کې او د کابل د سویل په ۲۳ مایلۍ کې موقعیت لري. دا کلي درې جلا برخې لري چې په ۱۸۸۰ز کال کې د استوګنو وګړو شمېـر ئې چې تاجیکان دي ۲۰۰ کورنۍ وو. د محمد آغي د ګاونډ ځمکې زښتي ډېـرې کرل سوي دي او ویل کـېـږي چې د محمد آغي مڼې په ټول افغانستان کې ډېـرې اعلی مڼې دي. (ایوان سمیټ، آی. بي. سي)

* **محمدک** : [23] : ۹ – ۳۳، ۲۵ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د ناور د دښتي په سویل لویدیځ کې د ارغنداب د یوې ښاخنګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

* **محمد علی**: ۴۳ – ۳۲، ۱۸ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د جاني خیلو او خوشامند تر منځ نیمايي لارې کې یو کلی دی.

**محمد علي خان**: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کې یو کوچنی په دیوالونو کې محصور کلی دی چې له بالا حصار څخه ۲/۱ – ۱ مایل لیرې د کابل – چار آسیا د سړک په ختیځې خوا کې واقع دی. دا کلی د ۱۸۷۹ز کال د دسمبر د میاشتي په دیارلسمي نیټي د برتانویانو له پلوه وسوځول سو. (آی. بي. سي)

* **محمد امین**: ۴۲ – ۳۲، ۲۲ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د جاني خیلو په سویل لویدیځ کې د خوشامند د ختیځ په نېـږدې ۸ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **محمد دین کلی**: ۴۶ – ۳۲، ۴۷ – ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت په سویل کې د «مریاني» [24] د شمال په نېـږدې ۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **محمد دوست**: ۵۰ – ۳۲، ۲۹ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د خیر کوټ د سویل ختیځ په څو مایلۍ کې یو کلی دی.

* **محمد حسن**: ۴۸ – ۳۲، ۲۸ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د خیرکوټ په سویل او د جاني خیلو په شمال ختیځ کې یو کلی دی.

**محمد حسین**: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا له جلال آباده ۱۵ مایله لیرې د جلال آباد په ولسوالي کې یوه کلا ده.

---

[23]-MUHAMMADAK

[24]-Maryani


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ

**محمد عراقي: (محمود راقي) :** [25] : ۰ – ۳۵، ۲۱ – ۶۹: دا د چاريکارو په ولسوالي کې د «اشترگيران» [26] په سويل ختيځ کې يو ښارګوټی دی چې د «کاريز» [27] په سويل يا سويل ختيځ کې واقع دی، او د «خـَـمِ زردګر» [28] په سويل يا سويل ختيځ کې يو بل لوی ښارګوټی دی. ويل سوي چې محمد عراقي له دغو کليو څخه جوړ سوی دی:

| محمد عمر خيل | | ملک جي، بابا علي | | سيد خان | | مراد خواجه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| قاضي خيل | Kalacha | کلاچه | Badi | بادي | Kalotar | کالوتار |
| شهبازخيل | | پردل خان | Soghal | سوغال | Sayyidani | سيداني |
| خدايار خيل | | سيف الدين خيل | Jamchi | جم چي | | شيرخان |
| علي خيل | | ملا خيل | | ولي خيل | | ملا فقير خيل |
| ملک احمد خان | Hashur Khel | عاشور خيل | | علي خيل «۲» | | ملا عزت خيل |
| خمِ روباه | Kazah | کزه | | ساربان | | غني خيل |
| | | | | رحمن خيل | Kham -i- Robah | |
| | | | | | | |

ټولټال د صافيانو ۲۰۰۰ کورونه. تر کلي گرد چاپيره د ميوو وني راتاو دی. (شهزاده تيموس)

**محمد کريم خان:** دا يوه کلا ده چې د چاردهي په «دِهٔ مراد خان» [29] کې شامله ده. دا کلا ۴ برجونه او د دروازې پر سر يوه لوی کور لري چې مخه ئـي سيند ته ده. استوگن وگړي: تاجيکان. ټولټال ۱۵ کورونه دي. (آی. بي. سي)

**محمد خان کلی:** [30]: ۴۲ – ۳۲، ۵۹ – ۶۸ «ن»: دا د پکتيا په ولايت کې په «زاور الگد» [31] کې يو کلی دی ، په دې نوم يوبل ځای د غزني په ولايت کې د «مرجانه» او وازې خوا تر منځ په ۱۰ – ۳۲، ۱۸ – ۶۸ «ن» کې موقعيت لري.

* **محمد خيل:** ۱۹ – ۳۲، ۵۱ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولايت کې د آبِ ِ ايستاده په سويل او د ناوې په لويديځ کې يو کلی دی.

**محمد خواجه:** دا د هزاره گانو يوه اساسي ښانگه ده. په دې نوم يو کلی د پروان په ولايت کې په گلبهار کې په ۶ – ۳۵، ۱۶ – ۶۹ «ج» کې موقعيت لري. (لودويگ آدمک)

**محمد کچاه:** وگوری: زرسنگ: [32] :

**محمد صادق خان:** ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامې په علاقه دارۍ کې يو کلی دی. استوگن وگړي: «هندکي» [33] او تاجيکان. (جنکينز)

---

25-MUHAMMAD I RAK I Or MAHMUD RAQI
26-Ushtargiran
27-Karezi
28-Kham -i- Zardgar

29 -Deh -i -Murad Khan
30 -MUHAMMAD KHAN KALAI
31 -Zawar Lgad
32 -MUHAMMAD KICHAH See ZARSANG
33 -Hindkis



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**محمد شاه خان**: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد په ولسوالي کي یو کلی دی چي د گندمک د لویدیځ په ۱۳ مایلی کي موقعیت لري؛ دا کلی د سرخاب د سیند په کینه غاړه کي واقع او د غلزیو په سیمي کي د حصارک د کلیو له ډلي څخه یو کلی جوړوي. استوګن وګړی: جبارخیل غلزي. (آی. بي. سي) په دې نوم یو کوتـل د جبل السراج په شمال کي په ۱۸ – ۳۵، ۷ – ۶۹ «ج» کي موقعیت لري. (لودویگ آدمک)

**مـحمد شاه خان**: ۲۹ – ۳۴، ۱۵ – ۶۹: دا د کابل په ولسوالي کي د لوګر د سیند د کیڼي غاړې په اوږدو کي د بیني حصار او د بګرامیو تر منځ یو کوچنی کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. (آی. بي. سي)

**محمد عمر**: ـ ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل د چاردهي په درې کي د ریشخورو د کلاګانو په منځ کي یوه کلا ده. (آی. بي. سي)

**محمد عثمان خان**: دا د چاردهي په درې کي د دِهْ مزګ د لویدیځ په ۱ مایلی کي د غزني د سړک په اوږدو کي یو کوچنی کلی دی. استوګن وګړی: قزلباشان. (آی. بي. سي)

**مور مرګ** : [34]: دا د بهسودو په سیمي کي یو ځای دی. (میتلند)

* **معین کلی**: [35]: ۵۶ – ۳۲، ۲۳ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کي د اورګون په ختیځ کي او د «ګیان» [36] په سویل کي یو کلی دی.

**مقدم** :دا د دایزنګیانو د «ینغور» [37] د قبـیلي یوه فرعي څانګه ده.

**مُـکشـرَق**: [38]: ۳۰ – ۳۳، ۲۵ – ۶۸: دا د غزني د ولایت د سویل په ۴ مایلی کي کندهار ته د تللي سړک په اوږدو کي یو کلی دی. (تورنتون)

**مقبل** : [39]: یا: مخبل: ۵۰ – ۳۳، ۵۶ – ۶۹: دا کورم د سیند په ښي غاړه کي د کورم له کلا څخه نـېـږدې ۱۷ مایله لیرې یوه دره ده. دا دره په شمال لویدیځ لور کي مخ پر سیند ځغیدلي ده. د غرونو یوه لړۍ دا دره په لویدیځ کي د ځمکنیو له درې څخه جلا کوي. په دې درې دغه کلي کي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | متور | | Matwar |
| ۲ | حسن خیل | | |
| ۳ | وورَکی | وړکی؟ | Woraki |

34 -MURMARG
35 -MUIN KALAI
36 -Giyan
37 -Yanghur
38- MUKASHRAK : ددې نوم مخې ته ئـې په عربي الفبا (کشمرق) لیکلي دي. - ژ
39 -MUKHBIL Or MAKHBIL


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

لاندي د دې درې په هکله د بریډمن کین د کشف د راپور یوه برخه وړاندې کېږي چې د ۱۸۷۹ز کال د جون د میاشتې په نهمه نیټه ئې لیکلی دی:

زموږ په ډلې کې تورن جنرال رابرټ سي. بي. وي. سي او نور اړوند مأمورین ول چې د بنګال د دولسم سپارۀ ځواک د ۲۰۰ سپرو په محافظتې ملتیا وخوځېده.

دا دره، د کورم د سیند له ښی غاړې څخه، د کورم له کلا څخه څه دباندې ۱۷ مایله پورته، مخ پر سویل ختیځ لور ت غځېدلې ده. دلته له سیند څخه پورې غاړه اوښتل په آسانی سره کیدای سي، د سیند د اوبو ژوروالی له ۲/۱ – ۲ فیټو ډېر نـۀ دی، د سیند بستر له ټینګو جغلو څخه جوړ سوی دی. له درندو بارانونو وروسته د سیند د اوبو سطحه لوړېږي او د اوبو د بهیدلو چټک ځواک (چې تل توند بهیر دی) له سیند څخه پورې غاړې اوښتل خطرناک کوي.

لومړی مایل: لاره له سیند څخه په لویدیځ کې د غرونو په بېخ کې پورته تللې ده، له درې څخه تـېرېـږي او په یوې نالي چې تقریباً ۲۰۰ یارده ارتوالی لري ورکوزېږي؛ غاړې ئې زښتې ډېـرې ستوغې دي او لوړوالی ئـې نېـږدې ۳۰ فیټه دی.

که یوه ډله د دې نالي په اوږدو کې په خوځښت کې وي له لاندې څخه ئـې څوک نـۀ سي لیدلای. د نالي وتون یا مفر په دقیق ډول نـۀ دی تعریف سوی؛ د متور د کلي په سویل کې ځمکه ځکه کنډو کنډو ده چې دا خاوره طبیعتاً نرمه ده او د بارانونو د اوبو توندو بهیرونو په کې د نهرونو په شان اوږدې اوږدې چاودې ئـې جوړې کړې دي چې اوس وچې دي.

له کلي سره جوخت او له کلي ور هاخوا دا دره د نېـږدې ۱۵۰۰ یاردو په اندازې ارتوالی لري؛ د نالي په لویدیځ کې ۱۰۰۰ یارده لیرې د مسلطو مهمیزونو له ستوغو ډېو څخه، ځمکه په تدریج سره د درې مرکز ته لویدلې ده؛ د ځمکې سطحه په لنډکیو زېـږو بوټو پوښل سوې ده او په خپله ځمکه کولای سي یو دفاعي پوښښ ورکړي؛ لویدیځ لور ته ځمکه همدا ځانګړتیا لري خو ارتوالی ئـې یوازې ۳۰۰ یارده دی. توپچي او پلی ځواک په هر ډول جوړښت کې چې وي کولای سي له خپلو توپونو سره د نالي په منځ کې چې د لارې د تګ ځای دی وخوځېـږي.

دوهم مایل: د نالي د بستر مرکز اوږدو او کوچنیو بوټو پوښلی دی. له پاسه ئـې نرمه شیب لرونکې ځمکه ده او اوس ۵۰۰ یارډو ته تنګه کـېـږي چې د راج یا خاس په بوټو او نورو بوټو چې لوړوالی ئـې ان تر ۱۰ فیټو پورې رسېـږي پوښل سوې او د سترګو د منظر مخه نیسي؛ د ځمکې سطحه تر دې ځایه بیا هم نرمه ده او بوټې دومره ډېـر پریر نـۀ دي چې د وسله وال ځواک د هرې ځانګې د تګ خنډ وګرځي.

اوس نو په کیڼ لاس کې د نالي پر ژۍ باندې غرونه مسلط کـېـږي.

دریم مایل: د نالي ارتوالی متدرجاً لږ کـېـږي؛ له نالي څخه یوه تنګه اوږده ژوره دره مخ پر سویل ختیځ لوري غځېدلې ده او اړخونه ئـې په بوټو پوښلي دي.

څلورم او پینځم مایل: دلته ناله اوس په دوه وو ښاخونو جلا کـېـږي، لویه ځانګه ئـې د موسی خیلو پر مخ غځېدلې ده او تـنګه ځانګه ئـې د مخبل نوم خپلوي. په کین لاس کې غرونه مستقیماً د سیند خوا ته ډېډه غورځوي؛ په ښي لاس کې تر یوۀ واټن پورې په شا کـېـږي؛ دا بلافاصله فضا ډېـره کنډو کنډو ده او په بوټو پوښلې ده.

شپږم مایل: له نالي پورته ښي لاس ته د کرنیزې ځمکې یوه همواره برخه پرته ده چې له نالي څخه نـۀ ښکاري او لږ وړاندې ئـې د حسن خیلو کلی دی؛ له دې کلي ور هاخوا ځمکه کنډو کنډو ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اووم مایل: له اساسي نالي ښخه یوه کړلیجنه او ډېـره تـنګه دره مخ پر ختیځ تللي ده؛ د دې درې غاړې ۲۰ فیټه لوړې دي بستر ئـي د نرمو شګو دی او یوه ډېـره ښه لاره جوړوي، دا لاره د «وړَکي» [40] بې وزلې کلي ته تللي ده. د دې درې موقعیت په سویل ختیځ لور کې یو ښـهٔ منظر په سترګو کوي. د دې ځای اوبـهٔ ډېـرې خرابې دي او لږ هم دي؛ د ځمکي یوه لویه ټوټه کرل سوې او د خپل حاصل د رسیدلو وخت ته سترګې په لار ده.

د بیرته ستنیدلو لار: دا لاره قسماً په لوړې سطحې راغلې چې د حسن خیلو د سمسور او مخ په ودې کلي له منځه تـېـرېـږي؛ دا ځای د یادولو وړ کومه ځانګړتیا نـهٔ لري.

**پایله**: د مخبل د درې له دې برخه ښخه تـېـریدل د وسله وال ځواک د هرې برخې لپاره آسانه او خوندي دی خو شرط دا دی چې د مارش په لیکه کې تل له احتیاط ښخه کار واخیستل سي. د سپارهٔ ځواک سپارهٔ د دې سیمې په هر لور کې په تراټ تګ راتګ کولای سي. د کورم له سیند ښخه د وړکي تر کلي پورې اټکلي واټن ۷ مایله دی.

د پورتنی شرحې په هکله په کورم کې د ځانګړې مأموریت افسر ښاغلی جې. اس. دانالد وایي:

«دا " د مخبل دره" باید د «ځیګر» [41] دره وي چې دا کلي په کې موقعیت لري. د مخبل د قبـیـلې هغه ښانګې چې په اساسي درو کې استوګني دي «غوزغري» [42] او «ځیګر» دي. د اوسنیو سرحدي نښو له ایښودلو وروسته غوزغري د سرحد په برتانوي قلمرو کې راغلي دي.»

د مخبل قبـیـله په لاندنیو ښانګو ویشل سوې ده:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | موسی خیل | ۴ | بوبکي | Bobaki |
| ۲ | حسن خیل | ۵ | سلتک | Sultak |
| ۳ | احمدخیل | | | |

د یادولو وړ ده چې د احمد خیلو او بوبکي ښانګې په غورغري کې میشتې دي او پاتې نور ئـي د افغاني حاکمیت اتباع دي. (کین، دانالد)

* **مختار:** ۵۳ – ۳۲، ۳۴ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د خیرکوټ په شمال ختیځ کې او د یحیی خیلو په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.

**مُـقُــر :** [43]: ۵۲ – ۳۲، ۴۷ – ۶۷ : مقر د غزني د ولایت یوه ولسوالي ده چې ۸۱۵ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي چې بزګرې پرګني دي له ۹۰۸۷ تر ۲۱۳۴۰ تـنـو پورې اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لورې له جاغورې، له سویل لویدیځ لورې له ګیلان، له سویل ختیځ لورې له «کیله» [44]، له ختیځ لورې له «آب بند» [45] او

[40]-Woraki
[41] -Zegar valley
[42] -Ghozghari
[43] -Ghozghari
[44] -Kila
[45] -Ab Band


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

له شمال لوري له قره باغ سره کرښه لري. مقر ۸۰ کلي لري چې ۱۴ کلي ئې له ۵۰۰ تنو ډېــر استوگن وگړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| رابوخیل Rabo Khel | آخوند خیل | قلعۀ آبُل Qala- i -Abul | اختر خیل |
| افضل خیل | اناخیل Ana Khel | بازید خیل Bazid Khel | بوزک Buzak |
| بهاء الدین | طائف خیل Tayef Khel | تنگی | جاني خیل |
| جوجهه «هجم جاجه» | Jojha (Hajum Jaja) | چاردِه | چمبر محمود Chambar -i- Mahmud |
| چمبرِ ملا سلطان «چمبر سید خان» | چمبرِ ملا تور | چوري خیل Chori Khel | قلعۀ خدای نظر خان |
| حمیدخیل | قلعۀ خدادای گدا خیل | Qala -i- Khudada -i –Gada Khel | دیوالک |
| قلعۀ رحماني | سرچشمه | قلعۀ توخي | ستار گداخیل |
| Setar -i-Gada Khel | قریۀ باز محمد | ننگۀ دولانه سنگر «ننگۀ دولاند» | Nanga -i- Dolana Sangar (Nanga -i- Doland) |
| سلیمان زي | سمند یا رحمن «قلعۀ رحمن» | شالي خیل Shali Khel | سه گنیلي Seh Ganili |
| سیدوخیل | سه گچه Seh Gacha | شاه علم خیل | شاه محمدخیل لرگه |
| Shah Moh'd Khel Larga | شب نم Shabnam | شامک خیل Shamak Khel | قریۀ عبدالمجید |
| قلعۀ عزت | علم خیلِ محمد خیل | Alam Khel -i -Moh'd Khel | اصغرخیلِ بالا |
| ریدل خیل Ridel Khel | عیسی خیل | منه خیل Mana Khel | آتي خیلِ گدا خیل |
| Ati Khel -i- Gada -Khel | بهراه خان خیل | Bahrah Khan Khel | قلعۀ عباس |
| شاموخیلِ چمبر زمان | قلعۀ نامدار | قندهاري | قلعۀ قمرالدین |
| قریۀ گله Qarya -i - Gala | گل خیلِ بالا | گل خیلِ پائین | قلعۀ گدام |
| گدو خیل Gado Khel | شبنم لرغه Shabnam Largha | لالم Lalam | قریۀ منک Qarya -i- Manak |
| احمدخیل | چمبرِ محمدگل | چمبر مدو Chambar- i - Mado | مُقَرَب خیلِ لرگه |
| ملنگ خیل «مانه خیل» | ماله خیل Mala Khel | مؤمن خیل | قلعۀ موسی جان |
| میرزا خیل | نظرخیل | قلعۀ نو خوني | Qarya -i -Nau Khuni |
| نو روزي | چمبرِ هاشم | هلال خیل | قلعۀ یار بیگ |
| اصغرخیلِ شمالي «اصغر خیل پائین» | | خانه در ها | Khana Dar -ha |
| نو آباد | قریۀ دوغه | Qarya -i -Dogha | چگه Chaga |
| احمد خیل | بابو قلا | خود زي Khudzai | دولانت Dolant |
| ملا خیل | لالان Lalan | | |
| (لودویگ آدمک) | | | |

مقر په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی:

«ملوی وایي چې د مقر سیمه د دغو ځایونو تر منځ واقع ده: په شمال کې د «جاغور هزاره گان» [46] او لر ختیځ خوا ته «اوبه» [47]، سویل لور ته د قلعۀ مرتضی خان او «گاري» [48] حد دی، لویدیځ ته ئې «شینکی» [49] او «آو غوجان» [50] او

46 -Jaghur Hazaras
47 -Obah
48 -Gari
49 -Shinkai
50 -Ao Ghojan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ختیځ ته ئـي «بادام کچه» [51] او د سهیل خان غلزي سیمه پرته ده. په خپله مقر او بلافاصله ګاونډ کي ئـي د سلیمان خیل غلزیو علي خیل او خودزي ځانګي استوګني دي. د مقر کلني مالیات ۴۰۰۰۰ روپی دي او مقر له ۴۰۰۰ تر ۵۰۰۰ پوري کورونه لري.» د مقر د مرکزي ټکي لوړوالی تقریباً ۶۵۰۰ فیټه دی. په خپله مقر ۶۵۶۱ فیټه، د مقر په شمال کي د کاریز اوبـۀ ۶۹۸۶ فیټه او په سویلي حد کي ئـي مرتضی ۶۳۶۹ فیټه لوړوالی لري. «په ۱۸۹۵ز کال کي» د مقر حاکم منصور خان نومیدۀ.

د دې سیمي مرکز مقر نومېـږي؛ ویل کـېـږي چي په مقر کي واښـۀ او علوفه باب پریمانه دي. دلته عمدتاً غنم او وربشي کرل کـېـږي؛ ویل سوي چي دلته وزې، پسونه، غواګاني او نور په غټ شمـېـر کي ساتل کـېـږي؛ خو په ۱۸۸۰ز کال کي د دې سیمي ټول کلي متروک سول او زموږ د سرتـېـرو لپاره نـۀ خوراک توکي او نـۀ هم کورني څاروي ترلاسه کیدل. د افغان د لومړۍ جګړې او د ۱۸۷۹- ۱۸۸۰ز کال د افغان د دوهمي جګړې په لړ کي یعني د دواړو جګړو په لړ کي د برتانیي د وسله وال ځواک عرابه لرونکي وسایط د کابل – کندهار په عمومي سړک د مقر له مرکز څخه په تـېـریدلو چي د تر نک د دري غاړه ئـي نیولي وه راتـېـر سول. ویل سوي چي مقر کي ډېـره کرهنه سوې ده؛ خو د مقر ظاهري بڼه ځکه ډېـر راښکون یا جذابیت نـۀ لري چي دلته د ونو قلت دی. (ملوی، آی. بي.سي) همدا شان وګورئ: «تره کي»

**مقر**: ۵۲ – ۳۲، ۴۷ – ۶۷ «ن»: لوړوالی: ۶۵۶۱ فیټه: دا د مقر په ولسوالي کي عمده ځای دی چي له غزني څخه ۶۴ مایله او له قلات غلزایي څخه ۷۰ مایله لیرې او د ترنک د سیند په ښۍ غاړې کي موقعیت لري. له دې ځایه واښـۀ او علوفه باب په پریمانه اندازه ترلاسه کیدای سي او همدا شان هر ډول غلات، وزې، پسونه او غواګاني په کي ډېـر او تر لاسه کیدونکي دي او سیند ئـي د کبانو په لرلو شهرت لري. د مقر د لویدیځ په ۱۰ یا ۱۲ مایلۍ کي شینکی موقعیت لري ؛ همدلته امیر عبدالرحمن خان یو کوچنی ګارنیزیون جوړ کي چي د سپارۀ ځواک له یوې رسالي، د پلي ځواک ۲ یا ۳ غندونو، ۴ غرنیو توپونو او ۴۰۰ خاصه دارانو څخه جوړ ځواک دی.

کلي ته نـېـږدې یوه ډېـره لوړه ډبره ولاړه ده او په بیخ کي ئـي د اوبو یو ډنډ دی؛ دا ډنډ د ۶ او ۷ چینو په اوبو ډک کـېـږي چي د ترنک د سیند سرچیني دي. د همدې ډنډ پر غاړې د وني او د (درخت زبان ګنجشک – ما ژباړونکي ورته په پښتو کي نوم ونـۀ موند دا نوم مي د فارسي – ایراني له قاموس څخه واخیست: Ash tree) یو ګڼ ځنګل دی، د همدغو ونو تر سیوري لاندې یو زیارت دی چي د «شیخ محمد راواني» [52] زیارت نومېـږي، نوموړی د همدې سیمي یو مشهور روحاني شخصیت وو چي څو پیړۍ وړاندې وفات سوی دی. (الفنستن، بـېـلو، براد فوټ، آی. بي. سي)

**ملاګوري**: [53]: د دې قبـیـلي څو کورنۍ له سنګو خیلو شینوارو سره اوسېـږي. وګورئ: «شینوار». د ملاګوریو په هکله یوه شرحه د شمال لویدیځ سرحد په ګزیټر کي ورکړل سوې ده.

**مُـلیم پور**: [54]: دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه داری کي یو کلی دی. استوګن وګړي: غلزي. (دا ځای د قلعـۀ خالقداد) په نوم شهرت لري. (جنکینز)

---

[51] -Badam Kecha
[52]- Shaikh Muhammad Rawani
[53] -MULAGORI
[54] -MULAIMPUR


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**ملک آباد**: دا د لوګر په ولسوالي کې د کابل د سویل په ۴۵ مایلی کې یو کلی دی. له همدې ځایه یو سړک د خروار ولسوالي ته تللی دی. (اوترام)

**مُـلکي:** [55]: دا د پولادا هزاره ګانو یوه څانګه ده.

**مُلک یوب**: [56]: د ناصر پوونده ۳۰۰۰ درې زره کورنۍ د ملک یوب په غرونو کې ژوند کوي؛ دا هغه خبره ده چې یو شمېـر پوونده مشرانو جنرال چمبرلین ته کړې وه. دا غرونه د کومې بلې سرچینې له پلوه نـهٔ دي یاد سوي.

**ملا عباس کلا:** ـ ۳۴، ـ ۶۸: دا د شیبر په درې کې د شیـبر د کوتل د لویدیځ په نېـږدې ۲/۱ – ۴ مایلی کې یو کوچنی په استحکامي دیوالونو کې محصور یو کوچنی کلی دی. له همدې ټکي څخه یو سړک چې د شیـبر – بامیان له عمومي سړک څخه راجلا سوی د «بیرګه لیچ درې» [57] او د «جلمیش کوتل» [58] ته ورغلی دی. (آی. بي. سي)

نور بیا

## * ملا آغه جان: دا د غزني په ولایت کې...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د بناغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، درېم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[55] -MULKI
[56] -MULKYUB
[57] -Birgalich Dara
[58]-Jalmish Kotal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ